د افغانستان بانک

د بانکي خارنې او مالي خدماتو لوی آمریت

مقرراتي معاونیت

گڼه: ۴۴۲۸ م.م ۱۹۷۴

نېټه: ۱۴۴۷/۳/۲۷

بسم الله الرحمن الرحیم

**د ریاست الوزراء قدرمن اقتصادي معاونیت ته!**

**د پاملرنې وړ: د دفتر عمومي ریاست**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

**موضوع: د عامه ساتنې ملي تصدۍ لخوا بانکونو ته له تخفیف پرته د خدماتو وړاندې کولو په اړه**

له ډېر درناوي وروسته؛

د میوند بانک قدرمن ریاست د ۲٦٦٨ گڼې ۱۴۰۴/۱/۲۲ نېټې لیک چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي قدرمن ریاست د ۱۱۴۱ گڼې د ۱۴۴۷/۳/۱۰ نېټې لیک په تړاو د پورته ذکر شوې موضوع په اړه دې اداري ته را استول شوي دي، لیکلي یې دي چې د کورنیو چارو قدرمن وزارت د عامه ساتنې ملي تصدۍ معینیت دې د پخوا په څېر میوند بانک ته امنیتي خدمات په تخفیف سره وړاندې کړي او قرارداد دې یې د پخوا په څېر په تخفیف سره تمدید شي.

د یادونې وړ ده چې د ریاست الوزراء قدرمن اداري معاونیت په مشرۍ چې کومه کمېټه د میوند بانک د ستونزو د حل په موخه تاکل شوې ده همداراز د کورنیو چارو قدرمن وزارت ته یې لیکلي دي څو میوند بانک ته د امنیتي خدماتو په وړاندې کولو کې ۲۰ سلنه تخفیف ورکړي.

بناءً د یاد بانک پورته ذکر شوی لیک او ورسره مل اسناد (۴) پاڼې ستاسو قدرمن مقام ته در واستول شول څرنگه چې اړینه گڼئ، همکاري وکړي.

د افغانستان بانک د وخت څخه په گټې اخیستنې ستاسو د برياوو غوښتونکی دی. **والسلام**

**نوراحمد آغا**

**د افغانستان بانک د بولو رئیس**

کاپي:

- د میوند بانک قدرمن ریاست ته
- د کورنیو چارو قدرمن وزارت د عامه ساتنې ملي تصدۍ معینیت ته

مل:

- د میوند بانک پورته لیک او مل اسناد (۴) پاڼې